مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین ۲۰۲۰/۰۹/۰۸

# ورمې

ورمې چې چلېدې، هغه سهار څه شو
غوټۍ چې سپړیدې، هغه بهار څه شو

بلبلو به چغار کړ بوراګانو به نڅاوې
نغمې چې خپریدې، هغه ګلزار څه شو

ساقی راکړل په سوچ کې ډک جامونه
پیالې خود تشیدې، هغه خمار څه شو

متاع د اتحاد مې د جانان په لور روانه
چې نه شواې خرڅیدې، هغه بازار څه شو

ارینه دا د مینې چاپیریال څومره و ښکلی
ښکلا چې نخیدې، هغه دیار څه شو

اغوس دنمارک
۰۷-۰۹-۲۰۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ